WWW.PILDAT.ORG

بیک گراوند پیپر



# ده روابط
# پاکستان افغانستا ن

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

WWW.PILDAT.ORG

بیك گرواند پیپر



# ده روابط
# پاکستان افغانستا ن

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

پلڈاٹ ایک ملکی، خودمختار، غیر جانبداراور بلامنافع بنیادوں پر کام کرنے والا تحقیقی اور تربیتی ادارہ ہے جس کا مقصد پاکستان میں جمہوریت اور جمہوری اداروں کا استحکام ہے۔

پلڈاٹ، پاکستان کے ایکٹ برائے اندراجِ تنظیم 1860 کے تحت، ایک بلا منافع کام کرنے والے ادارے کے طور پر اندراج شدہ ہے۔

کاپی رائٹ پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپرنسی ۔پلڈاٹ

جملہ حقوق محفوظ ہیں

پاکستان میں طباعت کردہ

اشاعت: نومبر 2012

آئی ایس بی این: 978-969-558-297-3

اس اشاعت کا کوئی بھی حصہ، پلڈاٹ کے واضح حوالے کے ساتھ، استعمال کیا جاسکتا ہے۔

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

ہیڈ آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان
لاہور آفس: 45-A، سیکٹر XX، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور، پاکستان
ٹیلیفون: 345-123-111 (51-92+) فیکس: 3078-226 (51-92+)
E-mail: Info@pildat.org; Web: www.pildat.org

## مضامین/سرليك

مخفف او لنډيز

سريزه

د ليکوال په باره کښي

**پيژندګلي** 11

**د پاکستان او افغانستان ترمينځه د اړيکو اوسنۍ حالت** 13

— د پولي له بلي خوا ترهه ګري او د افغانستان او پاکستان لخوا د پولي د امنيت نظام 13

— د ستراتيژيکي شرکت د ترون/لوظنامي صورتحال 14

— د پاکستان لخوا د افغانستان د مرستي صورتحال 14

اقتصادي روابط او تجارت 15

— د پاکستان څخه افغانستان ته د افغان کډوالو ستنيدل 15

— د اوبو معامله 16

**د پاکستان او افغانستان د اړيکو سباؤن: اوس مهال او د کال 2014م څخه وروستو** 17

— د پاکستان او افغانستان اوسنے کردار 17

— چيلنجونه او موقعي 18

— د کال 2014م د وتلو چيلنجونو په اړه د شريك انتظام امکانات 19

— د افغانستان په اړه پاکستان لپاره د پالیسي انتخاب 20

— د پاکستان په اړه افغانستان لپاره د پالیسي انتخاب 20

**د پرمختګ لار** 22

— د ګاونډيانو پشان په ښه فعاله اړيکو کښي د پارلمان د غړو کردار 22

— د پاکستان او افغانستان د اړيکو د سباؤن چيلنجونه 23

## مخفف او لنډیز

| | |
|---|---|
| اے پي ټي اے/اپټا | د پاکستان او افغانستان د ټرانزټ سوداګرۍ لوظنامه |
| اېن اے ټي او/ناټو | نارتھ اټلانټېك ټرېټي آرګنائزېشن |
| اېس پي اے | د ستراتېژيکي شرکت تړون/لوظنامه |
| ټي اے پي آئي/ تاپي | ترکمانستان، افغانستان، پاکستان او انډيا/هند |
| يو اېن اېچ سي آر | کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو هائي کمشنر |

## سريزه

د پاکستان او افغانستان د اړيکو د صورتحال پس منظر په اړه دا مقاله د پيلډاټ په مرسته د پاکستان او افغانستان د پارلمان د غړو د اوومې مذاکراتي او د پاکستان په قامي اسمبلۍ کښې د پاکستان او افغانستان د پارلماني ملګرتيا ډلې په کال 2012 کښې د دسمبر په 11مه نېټه کېدونکې غونډې لپاره پيلډاټ تياره کړې.

د دې مقالې ليکوال ښاغلې امتياز ګل دے څوك چې د سنټر فار ريسرچ او د سيکيورټي سټډيز اېګزېکټو ډائرېکټر دے.په دې مقاله کښې د پاکستان او افغانستان د اړيکو په ښېلا ښېلو اړخونو رڼا اچول شوې او داسې موقعې په ګوته شوېدي چې دواړه هېوادونه خپلو اړيکو ته څنګه وده ورکولې شي.په دې مقاله کښې د دواړو هېوادونو ترمېنځه د نتيجه ورکوونکو مذاکراتو او روابطو د لارې د اعتماد وړ او مضبوط شرکت لپاره د پارلمان د غړو د کردار اهميت هم په ګوته کړے شوے دے.


د يو آزاد تهنك ټېنك په توګه پيلډاټ په دې خبره باور لري چې بايد مذاکراتو لپاره سفارتي هڅې جاري وساتلې شي او بايد مضبوطو روابطو او په ښه ډول د مسئلو حل پېژندلو لپاره په دواړه پلو د دواړو هېوادونو د پارلمان غړو ته اسانۍ برابرې کړې شي چې دغسې په نتيجه کښې ئې سفارتي ګامونه پورته کړې شي. هم دې مقصد لپاره پيلډاټ د پارلمان د غړو مذاکراتو لپاره اسانۍ برابروي.

**يادګېرنه:** په دې مقاله کښې وړاندے شوے نظر، رائې، تحقيق، نتيجې او تجويزونه د ليکوال دي او ضروري نه ده چې دا د پيلډاټ او د پاکستان په قامي اسمبلۍ کښې د پاکستان او افغانستان د پارلماني ملګرتيا ډلې نظر څرګند کړي.

اسلام آباد

دسمبر 2012

## د ليکوال په باره کښې



ښاغلے امتياز ګل د سنټر فار ريسرچ او د سيکيورټي سټډيز ايګزيکټو ډائريکټر دے کومه چې ده په دسمبر کال 2007م کښې جوړه کړې ده. هغه امن او سوشل سټډيز لپاره د ملګرو ملتونو د پوهنتون جوړولو په اړه د بېلاګئيو فورم ، مېلان ، اېنيشي اېټيو غړے دے، ښاغلے د يو شمېر کتابونو ليکوال دے په کومو کښې چې " پاکستان : بي فور اينډ آفټر اوسامه "( Roli Books, 2012)، " دې موسټ ډېنجرس پلېس – پاکستانز لاء لېس فرنټيئر" ,(Penguin US/UK, 2010) ، " دي القاعده کنېکشن – طالبان اينډ ټېرر اين ټرائيبل ايرياز" ، (Penguin-Viking India, 2009) او " دي آن هولي نکسس؛ پاک- افغان ريلېشنز انډر دي طالبان" (Vanguard, 2002) شامل دي.

امتياز ګل د کال 1989 نه تر 2009م پورې د المان د ډويچه وېله اردو، انګلېسي او د هندي ژبو سروس لپاره د غېر ملکي ژبو براډکاسټر پاتے شوے دے او دې سره سره ئې د کال 1998 نه تر 2000م پورې سي اين اين، ټي وي لپاره کار کړے دے ،ده د هانګ کانګ سټار ورلډ ټي وي، د جاپان نېشنل براډ کاسټنګ کارپورېشن اين ايچ کے، د امرېکې نېشنل بپلك راډيو سره هم وظيفه ترسره کړې ده، دغسې په عسکريت خوښۍ، په پولو ، په افغانستان او د هند او پاکستان په اړيکو ئې د امريکې فارن پاليسي، وال سټريټ جرنل، فرائيډے ټائمز او ايکسپرېس ټريبيون لپاره په باقاعدګۍ سره ليکل کړي دي.

غېرملکي سفارتي مشنز او د پرمختيائي مد تنظيمونو ته د سلاکار په توګه مشورې ورکولو سره سره امتياز ګل د پاکستان په يو شمېر ټي وي چېنلو کښې د يو تجزيه کار او کارپوهه په توګه په باقاعدګۍ برخه اخلي، دغسې د دوحه د الجزيره د انګليسي او عربي ژبې سېټلائټ ټي وي په چېنل هم د افغانستان، قبائيلي سيمو او کشمير په اړه په پروګرامونو کښې برخمن وي د کومو په اړه چې هغه د 1988 نه تجربه لري.ښاغلے په انګلېسي، الماني، پښتو، اردو، پنجابي او دري ژبو عبور لري.

## پېژندګلي

په دې نوي دور کښې په نړۍ کښې کوم داسې دوه هېوادونه نشته چې دواړه یو ډول سباؤن ولري لکه څومره چې افغانستان او پاکستان دي خو له بده مرغه د دواړه هېوادونو د اړیکو تاریخ د جیو سټراټېژیکي بدقسمتی نه ډك پروت دے۔ د دواړو هېوادونو اولس او خاوره په هند کښې د برتانیي د راج نه د سوړ جنګ په مهال د پخواني شوروي اتحاد تر خاتمه د باچاهۍ تر آغېز لاندې راغلي۔ د ترهه ګرۍ په ضد د سپر پاور امرېکي اوسنې جنګ په نظر کښې ساتلو سره د دواړو هېوادونو د سټراټېژیکي اهمیت بیانولو خو ضرورت نشته۔

په دې منطقه کښې د لویو طاقتونو لخوا په لویه پیمانه د ککړتیا لوي قیمت دواړو هېوادونو ادا کړې دے او په یو بل ئې د دواړو اعتماد هم له مېنځه وړې دے۔ په داسې حال کښې د افغانستان او پاکستان اړیکې ډېرې پېچلې پاتې شوېدي۔ د یاد شویو لاملونو په نتیجه کښې دا دوه اړخیزه اړیکې د تېرو شپږو لسیزو په مهال هم داسې پاتې شوېدي۔ که یو خوا دواړه هېوادونه شریك کلتور، تاریخ، تهذیب او مذهب لري خو تراوسه دوي د شریکو ګټو او اعتماد وړ اړیکې نه لري۔ لکه څنګه وړاندې ذکر شوې دي چې د حکمران طبقي د نظر او د جلا فطرت له امله د دواړو هېوادونو د لنډې مودې د ګټو تصادم په نتیجه کښې د اوږدې مودې مرسته خطر سره مخ شوې ده او بیا نړیوالو او سیمه ایزو سټونزو دا اړیکې لا ترینګلي کړېدي۔

په دې مقاله کښې په هغو عواملو/اړخونو رڼا اچول شوې ده کومو چې د دواړو هېوادونو اړیکې پېچلې کړېدي، دغسې په مقاله کښې دواړو هېوادونو لپاره هغه موقعې هم په ګوته کړې شوېدي کومو سره چې دواړه هېوادونه تېر وخت هېرولو سره په خپل مېنځ کښې نزدې اړیکې جوړولې شي۔ په دې مقاله کښې د دواړو هېوادونو او پارلمانونو ترمېنځه غوره اړیکې جوړولو لپاره د پارلمان د غړو د کردار په اهمیت هم بحث شوېدې۔

## د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د اړیکو اوسنې حالت

په اوسني وخت کښې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د ملګرتیا او شریکې مرستې په اړیکو کښې ډېر زیات پرمختګ نه دے شوے. افغانستان په پاکستان د تورونو لګولو لړۍ جاري ساتلې ده چې پاکستان طالبانو ته پټ ځایونه ورکوي او افغانستان کښې ئې فعاله کوي چرته چې طالبان د امریکې په مشرۍ کښې د ناټو او افغان ځواکونو په ضد په خونړې جنګ کښې بوخت دي. افغان اولس مشر حامد کرزي په کال 2012م کښې د دسمبر په میاشت کښې په کابل کښې د یو خبري کنفرنس په مهال په واضحه توګه د ترهه ګرۍ پیدا کولو ، د ځانمرګي بریدونو ، د لاس وهنې او د هغو ټولو ځیزونو تور په پاکستان ولګولو د کومو په نتیجه کښې چې افغانان زورول کېږي او افغانستان کمزورې کېږي.

له بلې خوا پاکستان په افغان دولت دا تور بیا بیا لګوي چې افغان دولت د افغانستان په سوئیلي ولایتونو (کونړ او نورستان) کښې پټ د پاکستاني طالبانو لخوا د پولې د بلې خوا په پاکستان د بریدونو په مخنیوي کښې پاتے راغلے دے. په افغانستان کښې د هند زیات فعالیت او د اوږدې مودې راسي د امریکائي ځواکونو شتون د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د باوري اړیکو د نشتوالي یو بل سبب دے.

## د پولې له بلې خوا ترهه ګرې او د افغانستان او پاکستان لخوا د پولې د امنیت نظام

دواړه هېوادونه یو بل سره 2560 کلومېټره اوږده پوله لري کومه چې ډېره پېچلې، ناسمه او شاړې ده، په دغه پوله د پاکستان لخوا 1000 چېك پوستې او د افغانستان لخوا 100 چېك پوستې جوړې کړې شوېدي. د امنیت غېر متوازن نظام په نتیجه کښې د دواړو هېوادونو لخوا د تګ راتګ، په امنیتي ځواکونو او په عام وګړو د بریدونو تورونه لګول کېږي. په کال 2012 کښې د جون د میاشتې نه د اکتوبر تر میاشت پورې د افغانستان لخوا 14 بریدونه شوي دي چې په نتیجه کښې ئې 2 پاکستاني وګړي، 27 امنیتي اهلکار او 79 مشکوك وسله وال وژل شوي دي. د پولې له بلې خوا د دې بریدونو په ځواب کښې پاکستاني امنیتي ځواکونو په افغانستان راکټې او مارټر ګولې توغولې دي او په نتیجه کښې ئې د وګړو زیان شوې دے او د افغان دولت او د پارلمان د غړو لخوا د تنقید سبب هم ګرځېدلي دي.

پاکستان په دې بریدونو سخت احتجاج هم کړے دے او افغان دولت او په افغانستان کښې د ناټو کمانډ نه ئې غوښتنه کړې ده چې د دې بریدونو

مخنیوې وکړي۔ پاکستان دا معامله د پاکستان ، افغانستان او ناټو په درې اړخیز کمیسون کښې هم پورته کړې ده او په دې وروستیو کښې د پاکستان پوځې مشرتابه افغان پوځې جنرال افغانستان کښې د پټ شویو پاکستاني طالبانو د بریدونو په معامله بحث لپاره پېنډی ته رابللے و۔

د ستراتیژیکي شرکت د تړون/لوظنامې صورتحال

د سیاسي ، امنیتي او اقتصادي مرستې په اړه افغانستان په کال 2012م کښې هند، اټالیا او امریکي سره د ستراتیژیکي شرکت تړون/لوظنامې لاس لیك کړې دي۔ پاکستان د هند او امریکي زیات شوې کردار د خپلو ګټو زیان ګڼلو سره اوس غواړي چې هغه هم افغان دولت سره د ستراتیژیکي شرکت تړون/لوظنامه لاسلیك کړي۔

په کال 2012م کښې د نومبر په میاشت کښې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر زلمے رسول لخوا د اسلام آباد دورې په مهال پاکستان ده ته غور کولو لپاره د ستراتیژیکي شرکت د تړون/لوظنامې سند وسپارلو۔ د دې څخه وړاندې افغان اولس مشر حامد کرزي د پاکستان لخوا د ستراتیژیکي شرکت د تړون/لوظنامې وړاندیز په غبرګون کښې وئیلي وو چې ترهه ګري دې بند کړې شي، عسکریت خوښې دې په ډاګه کړې شي، د افغانستان په ضد دې فعالیتونه بند کړې شي، د افغانستان تباهي دې بند کړې شي، د دواړو هېوادونو ترمېنځه دې دوستي پېل شي بیا د افغانستان او پاکستان ترمېنځه د ستراتیژیکي شرکت تړون لاسلیك کېدے شي۔ په افغانستان کښې د هند او امریکي زیات کردار په نظر کښې ساتلو سره د پاکستان او افغانستان ترمېنځه په نزدې سباؤن کښې د دې تړون لاس لیك کېدل په نظر نه راځي۔

**د پاکستان لخوا د افغانستان د مرستې صورتحال**

په کال 2002 کښې د دسمبر په میاشت کښې د بون کنفرنس راسې په جنګ ځپلي هېواد افغانستان کښې پاکستان د بیا رغونې په یو شمېر پروژو کښې سرمایه لګولې ده۔ پاکستان د طورخم – جلال آباد سړك د رغونې کار ترسره کړے دے او په پراختیا کښې ئې هم مرسته کړې ده۔ د تجارت ځانګې نه علاوه پاکستان په کابل کښې د جناح روغتون کمپلېکس په نامه روغتون جوړ کړې دے، دغسې پاکستان په کابل پوهنتون کښې د علامه اقبال په نامه فېکلټي هم ډالۍ کړې ده۔ اوس مهال پاکستان افغانستان کښې د 300 ملیونه امریکائي ډالرو په مرسته د پروژو په عملي کولو کښې بوخت دے۔ پاکستان افغان زده کوونکو لپاره وظیفې زیاتولو سره 7000 ته رسولې دي۔

**اقتصادي روابط او تجارت**

د جغرافيائي نزدېکت او سمندر سره د تړون له امله افغان تجارت لپاره د لارې په توګه په منطقه کښې پاکستان د افغانستان تر ټولو لوي تجارتي شراکتدار دے، دغسې افغانستان هم د پاکستان برآمداتو لپاره درېم لوي مارکيټ دے. په کال 2012م کښې افغانستان ته د پاکستان برآمدات د 2 اربه ډالرو څخه زيات وو. د کال 2011م په مهال دا حجم 1.7 اربه امريکائي ډالره و. د دواړو هېوادونو د شريك تجارت حجم 2.5 اربه امريکائي ډالرو ته رسېدلے دے. د پېچلي پولي او په پوله د کوم خاص مېکانزم د نشتوالي له امله قاچاق او غېر قانوني تجارت زيات شوے دے. د ځينې اندازو له مخې د دواړو هېوادونو ترمېنځه د قانوني او غېر قانوني تجارت حجم د 5 اربه امريکائي ډالرو څخه هم زيات دے. د دې نه علاوه د هند او افغانستان ترمېنځه د پاکستان د لارې رسنې لپاره د پاکستان او افغانستان د ټرانزټ سوداګرئ لوظنامې(اے پي ټي ټي اے) سره به د پاکستان او افغانستان تجارتي اړيکې لا وده ومومي او دا لوظنامه به د سيمه ايزو روابطو يوه لويه ذريعه هم وګرځي.

دغسې د ترکمانستان-افغانستان- پاکستان او هند( تاپي) ګاز پائپ لائن پروژه به هم د سيمه ايزو روابطو او د اقتصادي مرستې لويه ذريعه وګرځي. د دې پروژې له مخې د 7.6 اربه امريکائي ډالرو په لګښت به د ترکمانستان څخه د افغانستان او پاکستان دلارې تر هند پورې 1800 کلومېټره اوږد پائپ لائن غزولے شي. د پائپ لائن د لارې به په ابتدائي توګه په کال کښې 27 اربه کيوبك مېټره(950 اربه کيوبك فټ) ګاز ورکولې شي چې پکښې به 2 اربه کيوبك مېټره(71 اربه کيوبك فټ) افغانستان ته او دغسې پاکستان او هند هر يو ته 12.5 اربه کيوبك مېټره(440 اربه کيوبك فټ) ګاز ورکولې شي. د ګاز پائپ لائن دا پروژه به په سباؤن کښې د افغانستان، پاکستان او هند د توان ضروريات په پوره کولو کښې مرسته کونکي ثابته شي.

**د پاکستان څخه اافغانستان ته د افغان کډوالو ستنېدل**

په کال 1979 کښې د دسمبر په مياشت کښې په افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل په نتيجه کښې د 3.3 مليونو څخه زيات افغان کډوال پاکستان ته په تللو مجبور شول، په افغانستان کښې د جنګ روان صورتحال( د 1990 په لسيزه کښې د کورني جنګ) له امله افغان کډوال په پاکستان کښې په پاتې کېدو مجبور شول، د يو اېن ايچ سي آر د يوې سروے له مخې نن هم د 1.7

مليونه رجسټرډ افغان کډوالو پشمول 3 مليونه افغانان په پاکستان کښې مېشته دي۔

په کال 2001 کښې د طالبانو حکومت د خاتمې او لږ ډېر امن راتللو سره وطن ته د افغان کډوالو د ستنېدو ډاډګېرنه وشوه خو اوس په دې کښې نيم په پاکستان کښې په کېمپونو او نورو کورونو کښې ژوند تېروي۔ په دې وروستيو کلونو کښې په پاکستان کښې د تشدد زياتېدو او د افغان دولت لخوا پاکستاني حکومت ته د افغان کډوالو د ستنولو وېنا په نتيجه کښې پاکستاني حکومت د کډوالو نړيوالې اداری يو اېن اېچ سي آر سره په ګډه د کډوالو د ستنولو عمل ګړندې کولو لپاره کار پېل کړے دے۔

د پاکستان، افغانستان او د يو اېن اېچ سي آر آستازي د روان کال په پېل کښې په جنېوا کښې يو تړون ته رسېدلي دي کوم ته چې د حل ستراتېژۍ نامه ورکړې شوه چې مقصد ئې په حفاظت سره د پاکستان نه د افغان کډوالو ستنول و۔ د يو اېن اېچ سي آر چارواکو د اوسنيو شمېر له مخې د کال 2012م په مهال تراوسه 50000 افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه شوي، په 2012 کښې تقريباً 32000 کډوال هېواد ته لېږل شوي۔

**د اُوبو معاملّه**

پاکستان او افغانستان يو شمېر شريك دريابونه لري، په افغانستان کښې د نامنی او د کومې مرکزي اتهارټۍ د نشتوالي له امله په درياېونو د توان د پېداوار پروژې نه دي پېل کړې شوې خو اوس د توان پېداوار په اړه غېر ملکي کمپنو د افغانستان په درياېونو بندونو جوړولو کښې خوښي څرګنده کړې ده، په کابل درياب کوم چې په پاکستان کښې هم بهېږي د بند جوړولو يو تجويز اوس هم افغان دولت سره پروت دې۔ د افغانستان په زرعي څانګه کښې د زياتي سرمايه کاری په نتيجه کښې د افغانستان د اوبو ضروريات هم زيات شوي دي۔

دا پرمختګ په نظر کښې ساتلو سره دا وئيلې کېدے شي چې د دواړو هېوادونو ترمېنځه په 1921م کښې د اوبو په شوې لوظنامه د بيا خبرو کولو ضرورت دے، د دواړو هېوادونو ترمېنځه د اعتماد کمبوت زياتېدو په نتيجه کښې امکان دے چې په نزدې سباؤن کښې د اوبو مسئله پېدا شي ځکه دا د دواړو هېوادونو په ګټه ده چې د هند او پاکستان ترمېنځه د انډس واټر ټرېټي پشان په کابل رېور واټر ټرېټي خبرې وشي او د اوبو معاملې حل لپاره دواړه دا لوظنامه لاسليك کړي۔

## د پاکستان او افغانستان د اړیکو سباوڼ: اوس مهال او د کال 2014م څخه وروستو

### د پاکستان او افغانستان اوسنے کردار

د تېرې لسیزې تجربه په ګوته کوي چې د اوسني افغان دولت او د امریکې په مشرۍ کښې د ناټو شته والې او عملیات د طالبانو بغاوت اعتدال ته راوستلو کښې مرسته کوونکي نه دي ثابت شوي. افغان دولت د اولس حامد کرزي په مشرۍ کښې په سپېڅلي ډول حکمراني باوري کولو کښې نه دے بریالے شوے کوم چې افغانانو لپاره د طالبانو متبادل وي. ناټو هڅه کړې چې طالبان یا هغه ډلې کومې چې په افغانستان کښې د دوي مخالفت کوي له مینځه لرې کړي خو دوي هم لا تراوسه د دې مقصد د ترلاسه کولو جوګه شوي نه دي. او نتیجه د دے په ضد ده.

په کال 2001 کښې د طالبانو د حکومت خاتمې څخه وروسته پاکستان د طالبانو ترټولو زیات ملاتړ کوونکے و ځکه په افغانستان کښې د طالبانو د بغاوت ژوندي ساتلو تور په پاکستان لګي. په کال 2012 کښې د دسمبر په شپږمه نېټه اولس مشر کرزي یو غېر ملکي ټي وي سره یوه مرکه ووئیل چې که په افغانستان کښې د تشدد زیات ذمه وار طالب یاغیان دي خو امریکا او ناټو هم په دې تورن دي.

دغسې د پاکستان ناخوښۍ سره هم په افغانستان کښې د هند کردار زیات شوے دے. کوم چې د بنیادي ودانۍ په پروژو کښې سرمایه لګوي او د افغانستان د ملي اردو استعداد زیاتولو کښې په فعاله توګه برخه اخلي. هند په افغانستان کښې 5 اربه امریکائي ډالر لګولي دي. هند د افغانستان د پخواني شمالي اتحاد( په خاص توګه ازبك، تاجك او هزاره ) ګوندونو سره اړیکې ټینګوي کوم چې اوس مهال په اپوزیشن کښې دي او امریکې سره د کابل د ستراتیژیکي اتحاد په حق کښې دي. داسې حالات د پاکستان د ناارامۍ سبب ګرځېدلي دي او د هند، افغانستان او امریکې یوځائ کېدو پاکستان پرېشاني سره مخ کړے دے.

کورني او خارجي جئیو سیاسي عوامل په 2014م د افغانستان څخه د ټولو خارجي ځواکونو د وتلو عمل او د امنیت چارې افغان ځواکونو ته د سپارلو عمل ستونزو سره مخ کړے دے. د افغانستان خارجه وزیر زلمے رسول لخوا د اسلام آباد تر دوره د افغانستان د سولې عمل په ټپه ولاړ و خو د دورې په نتیجه کښې د طالبانو د کمې درجې یو شمېر بندیان خوشې کړې شوي دي.

**چېلنجونه او موقعي**

د پاکستان او افغانستان اړيکي د شك او بې باورۍ ښخه ډکې پاتې شوېدي، او د دې جرړې په 19مه پېړۍ کښي د برتانيي د حکمرانانو لخوا د پاکستان او افغانستان پولې , ډيورنډ کرښې ، غېر معمولي تقسيم ته رسي. د پولې تقسيم سره ډيورنډ لائن په پوله مېشته پښتانه قبائيل هم د يو بل نه جدا کړل کوم چې د دواړو هېوادونو ترمېنځه د تاؤ تريخوالي ذريعه ده.

غېر محفوظ پوله دا صورتحال بيا لا پېچلې کوي چرته چې اندازه لګول شوې ده چې په دغه پوله هر ورځ قانوني يا غېر قانوني 50000 خلق تګ راتګ کوي. دې اسانې رسنې وسله والو ته مخفوظ ځايونه ورکړي دي کوم چې د پولې په دواړو خوا د خپلو دښمانانو(افغان طالبان د ناټو ځواکونو او پاکستاني طالبان د پاکستان امنيتي ځواکونو په ضد) جنګ کوي. د دې غېر محفوظ پولې د لارې د نشه اي توکو او وسلې قاچاقبر او جرائم کوونکي خلق په پوله فعاليتونه کوي او دواړو هېوادونو ته ښه په اسانتيا سره ځي راځي. دغسې د پولې امنيت او د تګ راتګ نظام دواړو هېوادونو لپاره يو لوي جېلنج دے.

د ټولو افغان ډلو ترمېنځه سوله په داسې حال کښې مشکل کار دے کله چې طالبان په افغان خاوره د ناټو تر موجودګۍ پورې افغان دولت سره خبرو ته کېناستل نه غواړي.د طالبانو لخوا د سولې په عمل کښې برخه نه اخستل د سولې عمل غېرموثر کوي او په دې عمل کښې د پاکستان په مثبت کردار شکوك پيدا کوي.

دغسې د امريکې ، هند او افغانستان نزدې مرسته په منطقه کښې د طاقت توازن په اړه پاکستان لپاره د ناارامۍ سبب ګرځي. په داسې حال کښې پاکستان فکر کوي چې افغان ځواکونو ته د انتقال عمل پېچلې کېږي.

د دې نه علاوه پاکستان په افغان دولت کښې ځينې عناصر د هند په سازس د پاکستان په لوېديزه بلوچستان صوبه کښې د ناامنۍ ذمه وار ګرځوي.

په داسې وخت کښې چې کله په کال 2014م کښې ناټو ځواکونه د افغانستان نه ووځي دا دواړو هېوادونو پاکستان او افغانستان ته موقع ورکوي چې شريکه ستراتېژي جوړه کړي ، د سولې سياسي عمل ته وده ورکړي او عسکريت

مهال ازبك ، تاجك او د هزاره مشرانو سره ملاقاتونه اوکړل. وزيراعظم راجه پرويز اشرف هم سږ کال جولائي کښې د افغانستان په پايه تخت کابل کښې د پاکستان د سفارتخاني د پرانستي دستوره کښې د نورو مشرانو په شمول غېر پښتنو مشرانو ته چې په کښې د بهرنيو چارو پخوانے وزير ډاکټر عبد الله هم شامل ؤ ته ګډون کولو بلنه ورکړې وه. په دې مهال ډاکټر عبد الله عبد الله افغانستان کښې د سولې عمل له ټولو مشرانو ته په بلنه ورکولو د پاکستان هڅې وستائلې. ډاکټر عبد الله په دغه ملاقات او دې کښې په شويو خبرو اترو د اطمينان ښرګندونه کولو سره ووئيل چې مونږ له به وړاندے تلل وي کول وي او پاکستان له به په غېر پښتنو د بې باورۍ چاپېرچل د منځه وړل وي. حکومت هغه لاربنودو سره ښې اړيکې لري کومو چې کال 1980ء کښې د روسيه افغانستان ښخه په شړلو کښې پاکستان سره کومك کړے ؤ. خو د پاکستان زياتره مرسته طالبانو سره وه چې په سوب ئې ډېره وينه توئي شوه او د دې په نتيجه کښې د غېر پښتنو پاکستان نه ګيلې پيدا شوې. اوس په دې تناظر کښې دواړه هېوادونو بايد د دوه اړخيزه اړيکو اهميت ومني او داسې ستراتيجي جوړه کړي چې د ناټو ښرته تګ ښخه وروستو د يو بل مرسته اوکړي. افغان اولس مشر کرزي په پاکستان تور لګولے ؤ چې پاکستان افغانستان کښې د اړي ګړي جوړولو خوښي ختمه کړي. بالآخره دواړه هېوادونه د عسکريت خوښي لوي قيمت ادا کوي.

پاکستان په طالبانو خپل اثر و رسوخ استعمالولو سره دوي خبرو ته کېنولو لپاره د افغان دولت مرسته کولې شي چې دغسې يو سوله ايز حل ولټول شي.دغسې افغانستان پاکستاني طالبان( د مولوي فضل الله ډله) په دې مجبور کولې شي چې د دوي د خاورې نه ووځي او د پولې له بلې خوا د ترهه ګرۍ په اړه د پاکستان اندېښنې لرې کړي. دغسې دواړه هېوادونه په اولسي کچه روابط زياتولې شي او د شريکو اړيکو په خاطر خپل تجارت او امنيتي مرسته زياتولې شي.

**د کال 2014م د وتلو چېلنجونو په اړه د شريك انتظام امکانات**

سره د دې چې پاکستان او افغانستان په دوه اړخيزه کشالو خبرې اترې کړي دي خو تر اوسه پورې دا خبرې کومو دوه اړخيزه رسمي لوظنامو ته رسېدو کښې کاميابې شوې نه دي. بايد دواړو اړخو ته زړونو کښې بدلون راشي او ماضي هېره کړې شي. پاکستان په دې ورستيو کښې له خپلې خوا د افغانستان مخالفو ډلو ته لکه ازبك او تاجك ته د ملګرتيا لاس وړاندے کړے دے. په دې لړ کښې وړومبې ګام د روان کال په مهال هغه وخت پورته کړې شو چې کله خارجه وزيرې حنا رباني کهر د افغانستان دورې په

- پاکستان ته به د افغانستان بیاً رغونې او پرمختیائي هڅو ته زیات پام کول وي۔ او پاکستان ته به د امنیت په نظر سره نه بلکې خلکو ته به پام کول وي۔

- پاکستان باید په پوله د افغان طالبان یا د هغو ټولو خلکو په ضد کاروائي اوکړي کوم چې د کرزي حکومت یا د غیر ملکي اتحادیانو په ضد وي۔

- باید پاکستان چې څومره کېدې شي د افغانستان د سولې عمل ته آساني برابرې کړي۔ د نورو طالب بندیانو خوشې کول په دې لړ کښې یو بل ممکن ګام کېدے شي۔ او دې سره به د افغان دولت او د مخالفینو اعتماد ترلاسه کړې شي۔

**— د پاکستان په اړه افغانستان لپاره د پالېسی انتخاب**

افغانستان د لاندینی پالېسی انتخاب لري۔

- باید افغانستان د افغانستان د سولې عمل ، په تفاهم او اقتصادي پرمختګ کښې د پاکستان رینښتني مهم رول ومني۔

- باید افغانستان ټولو لویو ګاونډي هېوادونو سره د اړیکو توازن پیدا کړي او دا باوري کړي چې یو هېواد سره د بل هېواد په قیمت دا اړیکې نه دي جوړې کړې شوې۔

کښې د طالبانو مرسته کوي۔ سره د دې هم موثر د دوه اړخیزه مرستې کولو لوظنامه لاس لیک کړې ده او دواړه هېوادونه یو ډول ترهه کری او عسکریت خوښی سره مخ دي۔

**— د افغانستان په اړه پاکستان لپاره د پالېسی انتخاب**

افغانستان سره نزدې اړیکو جوړولو له به پاکستان ته د لاندینی پالېسی انتخاب کول وي۔

- پاکستان باید افغانستان سره لکه د نورو هېوادونو د یو مستقل او آزاد شریکوال په حېث اړیکې

ولري۔ او نېغ په نېغه افغانستان سره داسې ترون ولري لکه څنګه چې نورو ډلو سره لري۔

- باید پاکستان د افغانستان کوم یو دولت سره د بل دولت اړیکو ته زیات پام ونکړي یا د بلې کومې افغان ډلې زیات ملاتړ اوکړي او نه د کوم سیمه ایز او نړیوال طاقت په خوښه او ناخوښه کار اوکړي۔

- پاکستان باید د کابل د اندېښنو لرې کولو هڅه اوکړي نه چې دا یواځے تورونه اوګني۔

- افغانستان د ستراتیژیکي شرکت په تړون یا لوظنامه غور کولو سره پاکستان سره اعتماد ته وده ورکولی شي او دې سره به د دواړو ترمینځه تاؤ تریخوالي کم شي۔

- باید افغان دولت پاکستان سره خپلو اړیکو ته داسي پام اوکړي چې په اولسي کچ د روابطو ډاډګیرنه اوشي او دا به د دواړو ترمینځه د باور د نشت والي په کمولو کښې مرسته کوونکے ثابت شي۔

- باید افغانستان د پولې د خوا په پاکستان د اوسنیو بریدونو په شان د پېښو مخ نیوې اوکړي۔ د کومو په نتیجه کښې چې د پاکستاني وګړو او امنیتي ځواکونو زیان کیږي۔

- باید افغانستان د منځنۍ آسیا هېوادونو ته د پاکستان تجارت ته په رسنه کښې مرسته اوکړي۔ دې اقداماتو سره به سیمه ایز روابط زیات شي او دا به د افغانستان د تجارت او سوداګرۍ په خپله ګټه هم وي۔

- باید افغان دولت د میډیا د لارې د سفارتي بیانونو ورکولو څخه ډډه اوکړي۔ باید افغان دولت پاکستاني حکومت سره د دوه اړخیزه مرستي زیاتولو لپاره د مسئلو د حل په خاطر نبغ په نبغه مذاکرات اوکړي۔

## د پرمختګ لار

په داسې حالاتو کښې چرته چې په دواړو هېوادونو کښې ټاکل شوي پارلمانونه موجودیت لري او د دواړو هېوادو ترمېنځه د ښه اړیکو په لار کښې لوي خنډونه موجود دي د پارلمان غري ډېر مهم کردار لري۔

له بده مرغه د افغانستان په اړه تراوسه د پاکستان پالیسی پوځې چاراکو جوړې کړېدي او په دې کښې سوېلین ته د ګډون کولو موقع نه ده وکړې شوې، دغسې کله چې په کابل کښې پاکستان سره د اړیکو جوړولو خبره وشي نو بیا هم د اولس مشر حامد کرزي ډېر کم ملاتړ کېږي۔

دغسې د یو بل په اړه د دې دواړو هېوادونو د پالېسو نتیجې د ډاډ وړ نه دي۔پاکستان او افغانستان دواړو ته د داسې پالېسې ضرورت دې چې په جوړولو کښې ئې سویلین ګډون ولري، دا به د دواړو هېوادونو په ګټه وي۔دواړو ته د مضبوطو او په یو بل د باور اړیکو پېل کولو ضرورت دې۔باید د دواړو هېوادونو سیاسي مشران ویښ شي او خپلې اړیکې سمې کړې او د سیمه ایزې سلامتیا ماحول بدلولو هڅه وکړي۔

د پاکستان د اوسنۍ دورې په مهال د افغانستان د پارلمان یو غړي شېرولي وردک دا په واضحه توګه ووئیل چې باید پاکستان اوس ومني چې افغانستان بدل شوی، دا د کال 1999 ( کله چې د طالبانو رجیم و) افغانستان نه دے۔ مونږ خپل پارلمان لرو، یو آزاد حکومت لرو او زمونږ اولس نه غواړي چې څوك زمونږ په کورنیو معاملو کښې لاس وهنه وکړي۔

په منطقه کښې ستراتیژیکي ګټې په نظر کښې ساتلو ، په چین نظر ساتلو او د ایران پولو سره خپل موجودیت په ځائ ساتلو لپاره امکان نه لري چې امریکا به ډېره زر د دې سیمې څخه ووځي۔ دغسې په منطقه کښې د امریکي موجودیت په خپله د منطقي د عدم استحکام سبب دےپه داسې حال کښې د دواړو هېوادونو په خپله ګټه ده چې یو بل سره نزدې مرسته وکړي او د امریکې د داسې کردار چې د زغملو نه وي ډاډګېرنه ونه شي چې په نتیجه کښې ئې دا منطقه د نورې بےاعتمادۍ او عدم استحکام څخه بچ کړې شي۔

### د ګاونډیانو پشان په ښه فعاله اړیکو کښې د پارلمان د غړو کردار

د پاکستان او افغانستان د پارلمان د غړو ترمېنځه زیات روابط او خبرې اترې سفارت منظم کولو لپاره یو ښه فورم کېدے شي او د دواړو هېوادونو ترمېنځه د بداعتمادۍ مسئله حل کولې شي۔

د پارلمان غړي د اولس د استازو په حېث د کابل او اسلام آباد ترمېنځه په داسي وخت کښي چي په دې ورستیو میاشتو کښې په یو بل توروونه لګول کېږي د یو بل څخه د نفرت او کرکي د جذباتو مخنیوې کولي شي۔

د افغانستان د مشرانو جرګې یو غړي پیر سید حامد ګېلاني د اسلام آباد د اوسني دورې په مهال ووئیل چي باید دواړه حکومتونه په یو بل د تور لګولو د لوبې څخه ډډه وکړي، یو خوا ته هم د اعتبار وړ معلومات نشته او په یو بل د تور لګولو لوبه به یوازې مسئلې زیاتې کړي او دې سره څه حل کېدے نه شي۔ده ووئیل چي د دواړو هېوادونو اولس وړونه دي خو بس دوي ته په حکومتي کچ د روابطو او مرستي زیاتولو ضرورت دے۔

د داسي ځائي او سیمه ایزو حالاتو او پس منظر په ضد د پارلمان غړي په لاندینۍ طریقو د روغې جوړې اړیکو لپاره کردار ترسره کولې شي۔

1- په داسي وخت کښي چي کله په دواړو هېوادونو کښي پرېکړه کونکي پوځي او سیاسي طبقه په کال 2014م کښي د ناټو د وتلو مسئلې حل لپاره واضحه پالېسۍ نه جوړوي د پارلمان غړي، د دوه اړخیزه روابطو په نتیجه کښي ټولي معاملي ترسره کولي شي، مشکوك احساسات ختمولي شي او د یو بل د ګټو خیال ساتلو سره اَندېښني لرې ګولي شي۔

2- په اسلام آباد او کابل دواړو کښي د حکومتونو او اولس ترمېنځه د مخالفت او د شك احساسات زیات شوي۔په داسي حال کښي د پارلمان غړي په ټولو معاملو خبرې اترې کولو سره د مسئلو حل رایستلي شي او یو بل سره تجویزونه شریکولو سره د شك د احساساتو لرې ختمولي شي۔

3- ذمه وار اخلاق کارولو او د مېډیا د موادو په بنیاد په یو بل د تور لګولو نه ډډه کولو سره د پارلمان غړي په ټولو معاملو بحث کولو سره د دواړو هېوادونو ترمېنځه ښه اړیکي جوړولي شي او صورتحال معمول ته راوستلي شي۔

4- د پارلمان غړي په خپلو پارلمانونو کښي د دواړو هېوادونو ترمېنځه د تجارت او سرمایه کارې اړیکو جوړولو لپاره نوي قوانین او لوظنامي معرفي کولو سره مرسته کولي شي۔ دوي د کمېټو په کچ یو بل سره تماس نیولي شي او د اړیکو پرمختګ لپاره خپل تجویزونه یو بل سره شریکولي شي۔

**د پاکستان او افغانستان د اړیکو د سباؤن چېلنجونه**

دواړو هېوادونو ته د تاؤ تریخوالي ختمولو او په شریکو او سیمه ایزو مقاصدو کښي د توازن پېدا

کولو ضرورت دے۔باید دواړه هېوادونه د تېر وخت تاؤ تریخوالي هېر کړي او د مخالفینو خبره ونه مني، معیشت د جنګ نه وباسي او په یو بل د لسیزو څخه کېدونکي شك ختم کړي۔

په پاکستان کښې په 2013م کښې ټولټاکنې او په افغانستان کښې په 2014م کښې د غېر ملکي ځواکونو د وتلو نه وړاندې کېدونکي ټاکنې د ټولو ډلو ترمېنځه د یو بل د مرستې یوه پیاوړې موقع ورکوي۔

دواړو هېوادونو ته په ستراتیژیکي توګه د کار کولو ضرورت دے چې دغسې د پولې په دواړه پلو د ترهه ګرۍ مخه ونیول شي او چې لوظ وکړې شي چې د یو بل خاوره به د بل په ضد نشي استعالولې۔

هند او پاکستان سره په اړیکو کښې توازن پېدا کول به کابل رجیم لپاره یو چېلنج وي، دغسې د پاکستان پوځي اسټېبلشمنټ سره د وسله والو ډلو د اړیکو په اړه د افغانستان او هند اندېښنې پاکستان لپاره یو لوي چېلنج دې۔

د طالبانو د بغاوت په نتیجه کښې پرله پسې زیات شوې عدم استحکام او د افغانستان او پاکستان اقتصادي بدحالي په نظر کښې ساتلو سره د دې خبرې ضرورت دې چې دواړه هېوادونه د خپل اولس په خاطر د تشدد خاتمې لپاره د یو بل مرسته وکړي او د هغو خلقو په خاطر کوم چې د مذهبي عسکریت خوښې په نتیجه کښې ځپلي شوي۔

د دواړو هېوادونو ترمېنځه د احترام او شریك اعتماد په بنیاد اړیکي جوړولو لپاره به د دواړو هېوادونو سیاسي مشرتابه او د پالمان غړو ته منفي تصورات ختمولو لپاره ګامونه پورته کول وي۔



پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپیرینسی


ہیڈ آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان

لاہور آفس: 45-اے سیکٹر 20 سیکنڈ فلور فیز III کمرشل ایریا، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور

ٹیلیفون: (+92-51) 111-123-345 فیکس: (+92-51) 226-3078

E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org